## د کار ملی کنفرانس لپاره

## د علمي او څېړنیزو مقالو د لیکلو لارښود

**(الف) د څېړنیزې او علمي مقالې جوړښت**

1- نوم ، تخلص، علمي رتبه، د تحصیل کچه، دنده ، د اړیکې شمېره، ایمیل آدرس
2- خلاصه
3- کلیدی کلمات
4- سریزه
 a. د مسئلې طرحه
 b. د څېړنې اړتیا او ارزښت
 c. د څېړنې پوښتنې
 d. د څېړنې موخې
5- د څېړنې د ادبیاتو ارزونه (د څېړنې مخینه)
6- د تحقیق ډول
7- مناقشه
8- د څېړنې لاس ته راوړنې
9- پایله او وړاندیزونه
10- د سرچینو لړلیک

**(ب) د څېړنیزې او علمي مقالې محتوا :**

د مقالې د لیکلو په وخت کې لاندې ټکې په پام کې ونیسئ:

1- مقاله باید د معتبرو اطلاعاتو په واسطه تدوین شي او له دې وړاندې په بل ځای کې نه وي خپره شوې
2- مقاله باید له هر ډول ادبي غلا او سرقت څخه پاکه وي.
3- د مقالې د لیکلو سبک او ډول باید معیاري وي، له املایي او انشایي تېروتنو څخه باید پاکه وي.
4- له غوره او معتبرو سرچینو او منابعو څخه پکې استفاده وشي.
5- مقاله باید د افغانستان د کار بازار تحلیل او کارموندنې پورې اړوند وي.
6- مقاله باید د هېواد له دیني او ملي ارزښتونو سره په ټکر کې نه وي.
7- مقاله باید د افغانستان اسلامي امارت له پالیسی سره په ټکر کې نه وي.

**(ج) د څېړنیزې او علمي مقاله بڼه :**

1. . په ملي ژبو د مقالو د خط بڼه باید Bahij Zar فونټ وي
2. د مقالې خلاصه باید له ملي ژبو څخه په یوه ژبه او یا هم په انګلیسي ژبه وي چې د خط اندازه یې نارمل ۱۱ وی
3. کلیدي مفاهیم باید له ۴ څخه تر ۷ اصطلاحاتو پورې وي او خط یې ۱۱ نارمل اندازه وي
4. د مقالې حجم له ۱۰ څخه تر ۱۵ پاڼو پورې وي.
5. . ګرافونه او جدولونه باید د سمون او تصحیح وړوي
6. د مقالې د سرلیک د فونټ اندازه ۱۴ بولډ وي، اصلي سرلیکونه ۱۳ بولډ،فرعي سرلیکونه ۱۳ نارمل بولډاو د مقالې د متن اندازه باید ۱۲ نارمل وي.
7. د ګر افونو اوجدولونو د خط اندازه باید ۱۰ نارمل وی
8. د منابعو د فہرست اندازه باید ۱۲ نارمل وي

نوټ : د کار او ټولنیزو چارو وزارت له ټولو علماء کرامو، استادانو ، محققینو څخه غواړي چې د کار ملی کنفرانس د علمي او څیړنیزو مقالو اړوند عنوانونو ترسرلیک لاندی د ۱۴۴۵ه ق کال د روژی میاشتی تر شلمي نیټي پوری دی خپلی مقالی دلاندی بریښنالیک له لاری راولیږی .

بریښنالیک : nlc@molsa.gov.af
**اړیکي شمیره :** ۰۷۰۰۱۴۸۱۲۲ او ۰۷۹۱۸۸۰۲۸۸
**پته :**د لمړی مکروریانو مارکیت ته مخامخ، کابل ، افغانستان